**Är du utsatt för våld i en nära relation? - Pashto**

# آیاتاسی په نژدی اړیکو کی له تاوتریخوالی سره مخامخ یاست؟

په نژدی اړیکو کی تاوتریخوالي کیدای شی ډېول ډېول شیان وی. کله دا د ژوند یو شریک وی چه داسی چلند کوی. کله کله دا نور خپلوان وی. کیدای شی چه ماشومان د خپل پلار او مور سره داسی چلند کوی. خشونت کیدای شی هم روحی هم فزیکی او هم جنسی وی. دا داسی وی چه یو کس:

- تا ته کنځاوی یا بدی خبری کوی یا ته اوری چه ته بده او ستونزمنه یی
- تا ټیله کوی، وهی، په لغتو د وهی یا تا ته په کوم بل ډېول زیان رسوی
- تا کنټرولوی او تا محدودوی، تا مجبوروی چه داسی کارونه وکړی چه ته هغه نه غواړی
- تا مجبوروی چه یو رفتار او کردار یا د ژوند طریقه مراعات کړی
- تا کوم جنسی عمل ته مجبوروی
- ستا اقتصاد تر خپل کنټرول لاندی نیسی

**ته د دفاع او مرستی حق لری**

په نژدی اړیکو کی د هرچا سره کیدای شی د تاوتریخوالي نه کار واخیستل شی. که ستا سره د تاوتریخوالي نه کار اخیستل کیږی نو د معلومات، دفاع او مرستی حق لری او باید ستا سره په احترام او خواخوږی چلند وشی. ته د دی شیانو حق لری. که ته ماشومان لری نو همدا شان ماشومان هم د ددی حق لری.

**تا ته په لاندی ډېول کیدای شی مرسته وشی**

- د مرستی خبری کول
- ساتنه او موقتی کور
- اقتصادی مرسته
- د نورو مقاماتو، د مثال په توګه پولیس سره د تماس لپاره مرسته

زمونږ سره تماس ونیسه، مونږ کولای شو ستاسره مرسته وکړو. که ته غواړی ته کولای شی خپل هویت پټ وساتی.

د عاجل خطر په صورت کی تل ۱۱۲ ته زنګ وهه.

**تماس ونیسه:**

- **فعالیت:** Socialtjänsten Vårgårda
- **د ټیلفون شمیره:** Telefon växel 0322-600 617
- **انټرنیټی پانه:** www.vargarda.se
- **د لیدنی کتنی پته:** Kungsgatan 45